د ژوند د مهارتونو درسي پلان (کریکولم)
پیلیزه کچه

ډول:

زده کړې

لوستونه

په متحده آیالتونو کې زده کړې..... 2
د ښوونځي لارښود..... 14
له ښوونځي سره اړیکه نیول 26
لوړې زده کړې..... 37

د ټولنیزو او روغتیایي خدمتونو څانګه (DSHS):
د کډوالو او پناه غوښتونکو د مرستې دفتر

© 2021 Refugee Women's Alliance, Seattle, WA

لوست:

په متحده آیالتونو کې زده کړې

موخې

په دې لوست کې به تاسو له لاندې مواردو سره آشنا شئ:

- د متحده آیالتونو د زده کړو سیستم
- د ماشومانو لپاره اضافي فعالیتونه
- په ښوونځي کې د یوه ماشوم شاملول
- په ښوونځي کې غیر حاضري

مطالب

نوې کلیمې 3
ستاسو په هېواد کې 4
د ALEKSANDAR' الکساندر کورنۍ، 1 برخه 4
په متحده آیالاتو کې زده کړې 5
د ښوونځی د سیستم جوړښت 6
له ښوونځي څخه اضافي فعالیتونه 9
په ښوونځي کې شمولیت 10
په ښوونځي کې شمولیت 10
په ښوونځي کې غیر حاضري 11
د الکساندر کورنۍ، 2 برخه 12
را نغاړل 13

نوې کلیمې

کلیمې	معنی ګانې
دولتي ښوونځی	د دولت له لوري وړیا ښوونځي
چارټر ښوونځی	د یوې اداري له لوري وړیا ښوونځی
خصوصي ښوونځی	د یوې اداري له لوري ښوونځی، چې کورنۍ هلته د زده کړو په بدل کې پیسې ور کوي
له وړاندې پیل (Head Start)	کم لګښت لرونکی وړکتون
په ښوونځي کې شمولیت	هغه ښوونځی او ټولګی چې ستاسو ماشوم ور ځي
له پروګرام څخه اضافي فعالیتونه	اضافي فعالیتونه لکه وزرش او هنر
سیر علمي یا ساحوي سفرونه	له ښوونځي څخه بهر یوه ځای ته تګ
له ښوونځي وروسته پروګرامونه	له ښوونځي وروسته د زده کوونکو لپاره اضافي پروګرامونه
د اوړي کمپ	په اوړي کې د ماشومانو لپاره تفریحي ښوونځی
ELL / ESL	د هغو زده کوونکو لپاره ټولګي چې انګلیسي ژبه زده کوي
ګاونډ	هغه سیمه چې تاسو پکې استوګن یاست
ناسوب	هغه زده کوونکی چې ښوونځي ته نه وي راغلی
بې دلیله ناسوبتیا	هغه زده کوونکی چې ښوونځي ته نه وي راغلی او کورنۍ د هغې په اړه ښوونځي ته نه وي ویلي.
خوندي کول (واکسین کول)	د زده کوونکو د روغ ساتلو په موخه د واکسین تزریق کول

ستاسو په هېواد کې

په یوه ډله کې خبرې وکړئ.

ستاسو په هېواد کې زده کړې څه ډول دي؟
څوک ښوونځي ته ځي؟
آیا خلک په ښوونځي کې د زده کړو په بدل کې پیسې ور کوي؟

د ALEKSANDAR’ کورنۍ، 1 برخه

Aleksander د اوکراین هېواد اوسېدونکی دی.

هغه اوسمهال یو مجرد پلار دی.

هغه 3 ماشومان لري.

د هغې لور Liliya 12 کلنه ده.

د هغې زوی Anton 10 کلن دی.

د هغې لور Nina 3 کلنه ده.

Liliya او آنتون ښوونځی خوښوي.

د Liliya د فوټبال لوبه ترسره کول خوښېږي.

د Anton لیکل خوښېږي.

Aleksander غواړي چې ماشومان یې ښې زده کړې ترلاسه کړي.

Aleksander د ESL ټولګي ته ځي.

په داسې حال کې چې هغه زده کړې کوي، Nina هم ټولګي ته راوړي.

Aleksander ماشوم ته د پاملرنې په اړه په څه نه پوهېږي.

که چېرې Aleksander کوم د لیدنې وخت ولري، نو Liliya او Anton له ښوونځي وروسته نینا ته پاملرنه کوي.

په متحده آيالاتو کې زده کړې

انځورونه: k12.wa.us

په متحده آيالتونو کې ټول ماشومان بايد ښوونځي ته ولاړ شي.

په واشنګټن آيالت کې ښوونځي د سپټمبر په مياشت کې پيل کيږي او د جون په مياشت کې پای ته رسيږي.

په اوړي کې يوه رخصتي شته ده.

د ښوونځي د کال په اوږدو کې رخصتۍ لري.

د ښوونځي ډولونه

دولتي ښوونځی

- په وړيا ډول
- د دولت له لوري پرمخ وړل کيږي

چارټر ښوونځی

- په وړيا ډول
- د يوې اداري له لوري پرمخ وړل کيږي

خصوصي ښوونځی

- د يوې اداري له لوري
- د پيسو په بدل کې پرمخ وړل کيږي

ښوونځي د معلوليت لرونکو ماشومانو اړتياوو ته په پام سره په ځانګړو وسايلو سمبال ټولګي لري.

ښوونځي د هغو زده کوونکو لپاره چې د انګليسي ژبې زده کړې ته اړتيا لري، د **ELL** او **ESL** **ټولګي لري.**

پوښتنې

د الکساندر د ماشومانو لپاره څه ډول ښوونځی ښه دی؟ ولې؟
د انګلیسي ژبې د زده کړې لپاره، دوي په ګوم ټولګي کې ګډون کوي؟

د ښوونځی د سیستم جوړښت

د ماشومتوب پر مهال زده کړې

د ماشومتوب پر مهال زده کړې (ECE) تر 3 کلونو پورې عمر لرونکو ماشومانو لپاره دي. ځینې وخت د ټولنیزو او روغتیایي خدمتونو څانګه (DSHS) یو شمېر کورنیو ته د ماشومتوب پر مهال وړیا زده کړې (ECE) وړاندې کوي.

له ښوونځي وړاندې دوره

له ښوونځي وړاندې دوره د 3 او 4 کاله عمر لرونکو ماشومانو لپاره دی.

ځینې وخت ماشومان له **وړاندې پیل (Head Start)** ته هم مراجعه کوي. له وړاندې پیل (Head Start) له ښوونځي وړاندې کم لګښته دوره ده.

لومړنی ښوونځی

لومړنی ښوونځی له وړکتون څخه تر 5 او 6 ټولګیو پورې دی.
زده کوونکي له 5 څخه تر 10 کلونو پورې عمر لري
زده کوونکي په یوه ټولګي کې یو ښوونکی لري.

منځنی ښوونځی

منځنی ښوونځی د 11 څخه تر 14 کاله عمر لرونکو ماشومانو لپاره دی.
منځني/متوسطه ښوونځي له 6 څخه تر 8 پورې ټولګي لري.
زده کوونکي د هر مضمون لپاره بېلابېل ټولګي او ښوونکي لري.

لیسه/ښوونځی

د لېسې دوره د 14 څخه تر 18 کاله عمر لرونکو ماشومانو لپاره ده.

د لېسې دوره له 9 څخه تر 12 پورې ټولګي لري.

د زده کوونکو د ټاکنې لپاره بېلابېل مضامین او ټولګي شته دي.

لاندې جدول په واشنګټن آیالت کې د ښوونځیو عام جوړښت په ګوته کوي:

سن/عمر	ښوونځی
نوی زیږېدلی ماشوم - 3	د ماشومتوب پر مهال زده کړې
4-3	له ښوونځي وړاندې دوره
11-5	لومړنی ښوونځی 1 ټولګی 2 ټولګی 3 ټولګی 4 ټولګی 5 ټولګی
14-11	منځنی/متوسطه ښوونځی 6 ټولګی 7 ټولګی 8 ټولګی
18-14	د لېسې دوره 9 ټولګی 10 ټولګی 11 ټولګی 12 ټولګی

له ښوونځي څخه اضافي فعاليتونه

له ښوونځي څخه اضافي فعاليتونه د ماشومانو لپاره ګټور دي.

هغه ماشومان چې دا فعاليتونه ترسره کوي، په ښوونځي کې غوره نمرې ترلاسه کوي.

سير علمي يا ساحوي سفرونه

- د سير علمي له ښوونځي څخه بهر د نويو ځايونو د لیدلو لپاره سفرونو ترسره کولو ته ویل کېږي.

له پروګرام څخه اضافي فعاليتونه

- زده کوونکي کولای شي هغه کارونه ترسره کړي چې دوي يې خوښوي
- د بیلګې په ډول:
  - لوبې
  - هنر
  - ساینس

د ښوونځي ناستې

- ښوونځي د لوبو او ګډا په څیر ناستې لري.
- د ښوونځي ناستې د زده کوونکو او کورنیو لپاره ښې دي.

له ښوونځي وروسته پروګرامونه

- زده کوونکي کولای شي د کورنۍ دندې په برخه کې مرسته ترلاسه کړي.
- زده کوونکي کولای شي له خپلو ملګرو سره وخت تیر کړي.

د اوړي کمپ

- د اوړي کمپونه د جولای او اګست میاشتو کې دي
- زده کوونکي د اوړي په کمپ کې زده کړه کوي او خپل ملګري وینې.

پوښتنې

آیا د الکساندر ماشومان باید له ښوونځي څخه پرته اضافي فعالیتونه ترسره کړي؟
ستاسو ماشوم د کومو کارونو ترسره کول خوښوي؟

په ښوونځي کې شمولیت

په ښوونځي کې شمولیت په ګوته کوي چې ستاسو ماشوم به په کوم ښوونځی او ټولګی کې وي. دا د دې پر بنسټ دي

- سن/عمر
- ګاونډ

ښایي کډوال او پناه غوښتونکي زده کوونکي په خپل هېواد کې له ښوونځي څخه پاتې شوي وي او د انګلیسي ژبې زده کولو ته اړتیا ولري.

دوی ښایي د خپلو هم سن ټولګیوالو په پرتله په بیلابیلو ټولګیو کې وي.

په ښوونځي کې شمولیت

کورنۍ خپلو ماشومانو ته د زده کوونکو په توګه نومليکنه کوي.
تاسو ښوونځي ته مراجعه کړې او پاڼې مو لاسلیک کړې دي.

تاسو اړ یاست چې لاندې معلومات وښیئ:

- د ماشوم پته. خپل د اجارې پاڼه او یا د بریښنا بل له ځان سره راوړئ.
- د ماشوم سن عمر. د دوي پاسپورټ او یا د زېږیدو تصدیق پاڼه له ځان سره راوړئ.
- واکسین کول او یا نور روغتیایي سوابق.

په ښوونځي کې غير حاضري

په متحده آيالتونو کې ماشومان بايد ښوونځي ته ولاړ شي.

ښوونځي ته نه تګ، **ناسوبتيا** ګڼل کيږي.

د ناسوبتيا لپاره د منلو وړ دلايل عبارت دي له:

- ناروغي
- مذهبي رخصتی
- د هوا ناسم حالات
- د بس نه راتګ
- بېړني حالات

که چېرې ستاسو ماشوم ښوونځي ته نه ځي، تاسو بايد ښوونځي ته د هغې په اړه خبر ور کړئ.

که چېرې تاسو ښوونځي ته نه وي ويلي، تاسو او ماشوم به مو له ستونزو سره مخ شئ.

که چېرې ستاسو ماشوم ناسوب وي، له ښوونځي سره اړيکه ونيسئ. بيلګې ولولئ.

د ښوونځي کار کوونکی:	*سلام، Cascade ښوونځی*
مور پلار/والدين:	***سلام، Aleksandar يم. زه د Liliya پلار يم. هغه نن ورځ***
د ښوونځي کار کوونکی:	*زه ښښنه غواړم. زه به د هغې ښوونکي ته ووايم.*
مور پلار/والدين:	***مننه، د خدای پامان!***
د ښوونځي کار کوونکی:	*د خدای پامان.*

فعالیت: له ښوونځي سره اړیکه نیول

د خپلو ماشومانو په اړه فکر وکړئ.

خالي ځایونه ډک کړئ. له یوه ملګري سره خبرې کول تمرین کړئ.

د ښوونځي کار کوونکی:	*سلام, Cascade ښوونځی*
تاسو:	***سلام، زه یم _____. زه _____ _____ .*** ***(ستاسو نوم) (د ماشوم نوم) (اړیکه)***
	_____ . ***(د ناسوبتیا لپاره دلیل)***
د ښوونځي کار کوونکی:	*سمه ده زه به _____ ښوونکي ته ووایم.* ***(هغه/هغی/دوی)***
تاسو:	***مننه، د خدای پامان!***
د ښوونځي کار کوونکی:	*د خدای پامان.*

د الکساندر کورنۍ، 2 برخه

الکساندر د خپلو ماشومانو له ښوونکو سره خبرې کوي.

هغه زده کړي، چې له ښوونځي څخه اضافي فعالیتونه د ماشومانو لپاره ګټور دي.

اوس، لیلیا د فوټبال په ټیم کې ده

آنتون له ښوونځي وروسته د لیکلو پروګرام ته ځي.

الکساندر د ECE په اړه معلومات ترلاسه کړل.

الکساندر کولای شي په وړیا ډول ECE ترلاسه کړي ځکه هغه د ESL ټولګي ته ځي.

اوس نینا د ECE ته ځي.

د مازدیګر پر مهال، Aleksandar او ماشومان یې کور ته راځي او په ښووځي کې د خپلې ښې ورځې په اړه خبرې کوي.

را نغاړل

ستاسو په اړه فکر کوي.

د زده کړو په اړه مو څه زده کړل؟
اوس تاسو او ستاسو ماشومان د کومو فعالیتونو ترسره کول غواړئ؟

په خپل ټولګي کې خبرې وکړئ.

لوست:

د ښوونځي لاربښود

موخې

په دې لوست کې به تاسو له لاندې مواردو سره آشنا شئ:

- د ښوونځي ټرانسپورټ
- د ښوونځي د نمرو ور کولو سیستم او د نتایجو کارتونه
- د خپل ماشوم نمرې باید څه ډول معلومې کړئ
- د ښوونځي خواړه او د ښوونځي د کم لګښته خوړو غوښتنه څه ډول وکړو
- د ښوونځي نورې سرچینې: ESL او د زده کړو ځانګړې ټولګي

مطالب

نوې کلیمې 15
ستاسو په هېواد کې 15
ښوونځي ته تګ 16
د نمرو معلومول 18
د ښوونځي خواړه/دودی ګانې 21
د بېړنۍ حالت د اړیکې کارت 24
د ESL ټولګي 24
د ځانګړو زده کړو ټولګي 25
را نغاړل 25

نوې کلیمې

کلیمې	معنی ګانې
د نتیجو/پایلو کارتونه	هغه کارت چې د زده کوونکي نمرې پکې ښودل کیږي
په بس کې سورپرې.	په بس کې تګ کول
له بس څخه ښکته کېدل	د بس پرېښودل
کم سرعته	ناوخته
نمره	د کار په بدل کې نمرې؛ A - د ښه کار لپاره؛ F - د ډېر بد کار لپاره
سوبتیا	په ښوونځي کې اوسېدل
مسیر	هغه لار چې بس پرې روان وي
د کورنۍ غړي	هر هغه څوک چې ستاسو سره ژوند کوي.
عاید	هغه پیسې چې تاسو یې د کار په بدل یا د کار ځای کې ترلاسه کوئ
د دولت لخوا مرستې	د دې پروګرام له لارې له خلکو سره د نغدو پیسو مرسته کیږي
لومړني خواړه	د دې پروګرام له لارې له خلکو سره مرسته کوي چې روغتیايي خواړه وپیري
معلول	هغه شخص چې فزیکي او یا ذهني کارونه نه شي ترلاسه کولای

ستاسو په هېواد کې

ستاسو ماشومان ښوونځي ته څه ډول ځي؟

د خپل ماشوم نمرې څه ډول معلوموئ؟

ستاسو ماشومان په ښوونځي کې څه شی خوري؟

ښوونځي ته تګ

که چېرې تاسو ښوونځي ته څېرمه استوګن یاست، ماشوم مو کولای شي پلی تګ وکړي.

که چېرې تاسو له ښوونځي لرې استوګن یاست، ماشوم مو کولای شي د ښوونځي په بس کې لاړ شي.

د ښوونځي بس وړیا دی.

ستاسو ماشوم باید په لاندې مواردو پوه شي:

- **د ښوونځي** د بسونو په شمېر
- **هغه ځای** چې ستاسو ماشوم په بس کې **سورپرۍ**.
- **هغه وخت** چې ستاسو ماشوم په بس کې **سورپرۍ**.
- **هغه ځای** چې ستاسو ماشوم له بس څخه **کوزیږي**
- **هغه وخت** چې ستاسو ماشوم له بس څخه **کوزیږي**

فعالیت: د بس مهالویش

د ښوونځي د بس مهالویش وګورئ. پوښتنو ته ځواب ور کړئ.

د ښوونځي د بس مهالویش					
زده کوونکی: Saba Aranda	**ښوونځی:** Jon Elementary	ټولګي: 04			
بس #	**پته**	**د تمځای موقعیت**	**کونج**	**وخت**	**ورځې**
0724 W	1453 Queen Ave N **له:** Jon Elementary	Roy St @ Queen Ave N	سویل ختیځ	2:57	MTWTF
0724 W	1453 Queen Ave N Jon Elementary	W. Roy St @ Queen Ave N	جنوب لویدیځ	7:23	MTWTF

پوښتنې

- د بس شمېره څو ده؟
- Saba به چېرته په بس کې سورېږي؟
- Saba به چېرته په بس کې سورېږي؟
- Saba به چېرته له بس څخه ښکته شي؟
- Saba به څه وخت له بس څخه ښکته شي؟

د نمرو معلومول

ښوونځی د ماشومانو والدینو مور پلار ته د دوي د راپور کارتونه استوي.

ماشومان د راپور کارتونه کور ته وړي.

ځینې وخت تاسو کولای شئ د ماشوم د راپور کارتونه د والدینو او ښوونکي په ناسته کې ترلاسه کړئ.

تاسو د راپور کارتونه او یا پاکټ لاسلیک کوئ.

ستاسو ماشوم د راپور کارتونه بېرته ښوونځي ته وړي.

نمرې:

ښوونځي له دې نمرو څخه ستاسو د ماشوم د کورنۍ دندې د ارزولو لپاره کار اخلي:

A	ډېر ښه کار	
B	ډېر ښه کار	
C	متوسط کار	
D	کمزوری کار	
F	ناکام کار	

A، B، C، او D د بریالیتوب درجې دي.

F د بریالیتوب درجه نه ده.

که چېرې ستاسو ماشوم په یوه مضمون کې F درجه ولري، دوی باید اضافي کار ترسره کړي.

تاسو کولای شئ په آنلاین ډول د خپل ماشوم نمرې او حاضري معلومه کړئ.

تاسو کولای شئ په خپل ټلیفون کېد ښوونځي اپلیکېشن پرانیزئ.

تاسو کولای شئ د خپل ماشوم نمرې د ښوونځي په ویب سایټ کې معلومې کړئ.

په آنلاین ډول د نمرو معلومول

1. د ښوونځي ویب سایټ ته ولاړ شئ.

2. تاسو د ننوتلو لپاره له خپل برښنالیک څخه کار اخلئ.



3. د خپل ماشوم نمرې په منظم ډول اوګورئ



فعالیت: د نمرو معلومول

په پورته برخه کې د ماشوم پرمختګ ته کتنه وکړئ.

پوښتنې

- په کوم مضمون کې د A درجه لري؟
- په کوم مضمون کې زده کوونکی مرستې ته اړتیا لري؟
- زده کوونکی څو ځله ناوخته راغلی دی؟
- زده کوونکی څو ځله په ټولګي کې ناسوب و؟

د ښوونځي خواړه/ډوډۍ ګانې

ستاسو ماشوم کولای شي د غرمې ډوډۍ له کور څخه راوړي.

دا غوره نظر دی چې له ځان سره سالمه غرمنۍ ولرئ.

ستاسو ماشوم کولای په ښوونځي کې هم غرمنۍ وپیري.

هر ورځ د غرمې لپاره د غرمنۍ پیرل ډېر لګښت لري.

تاسو کولای شئ د ښوونځي وړیا او کم لګښته غرمنۍ غوښتنه وکړئ.

سهارنۍ او د غرمې ډوډۍ وړیا ده.

فعالیت: د ښوونځي د کم لګښته خوړو لپاره غوښتنلیک

د کم لګښته خوړو لپاره غوښتنلیک			
1. **د کورنۍ ټول ماشوم غړي** او تر 12 ټولګي پورې زده کوونکي لېست کړئ.			
د ماشوم لومړی نوم	**د ماشوم MI**	**د ماشوم وروستی نوم**	**زده کوونکی؟**
			☐ هو ☐ نه
			☐ هو ☐ نه
2. د کورنۍ د ټولو غړو عاید:			
لومړی نوم	وروستی نوم	له کار څخه عاید	د دولت لخوا مرستې
		$	$
		$	$
		$	$
		$	$
د ټولنیز خوندیتوب شمېرې وروستي څلور رقمونه: _ _ _ _			
☐ د ټولنیز خوندیتوب شمېرې (SSN) شمېرې د نشتون په صورت کې په نښه یې کړئ			

د اړیکې معلومات او د مشرانو لاسلیک:

نوم: _____

وروستی لومړی منځنی

پته: _____

کوڅه # .Apt

_____

ښار آیالت زیپ کوډ

_____

لاسلیک نېټه

لارښوونه: *که چېرې ستاسو عاید کم وي او یا لومړنۍ خواړه ترلاسه کوئ، تاسو باید د کم لګښته خوړو لپاره غوښتنلیک ډک کړئ. ستاسو ماشوم به په ښوونځي کې وړیا خواړه ترلاسه کړي.*

د بېړني حالت د اړیکې کارت

تاسو باید خپل ماشوم ته د ښوونځي د بېړنیو حالتونو د اړیکو معلومات ور کړئ.

د بېړني حالت اړیکه، یو شخص دی چې که چېرې تاسو د بېړني حالت سره مخ کېږي، هغوي ستاسو ماشوم له ښوونځي څخه ستون کړي.

دا هغه شخص دی چې تاسو یې په بشپړ ډول پېژنئ.

ستاسو د بېړني حالت اړیکه یو شخص دی چې کولای شي ستاسو ماشوم ته پام وکړي.

ښایي هغه ستاسو د کورنۍ غړی او یا یو ملګری وي.

ښوونځی به ستاسو د نه لاسرسي په صورت کې له دوي سره اړیکه ونیسي،تر څو ستاسو ماشوم له ښوونځي څخه ېبرته کور ته ستون کړي.

د بېړني حالت د اړیکې کارت د ماشومانو له خوندیتوب سره مرسته کوي.

ماشوم مو کولای شي یوازې ستاسو او ستاسو د بېړني حالت له ارتباطي شخص سره له ښوونځي څخه ووځي.

پوښتنه

ستاسو د بېړني حالت د اړیکو شخص څوک دی؟

د ESL ټولګي

هغه زده کوونکي چې انګلیسي ژبه زده کوي، کولای شي د ESL او ELL په ټولګیو کې ګډون وکړي.

زده کوونکي کولای شي په ESL ټولګیو کې په انګلیسي ژبه خبرې کول، لوستل او لیکل زده کړي.

دوي په یوه کوچني ګروپ کې دESL له ښوونکو او یوه مرستیال سره کار کوي.

یو شمېر ښوونځي په دوو ژبو ټولګي لري.

ماشومان هر مضمون په انګلیسي او په خپله مورنۍ ژبه باندې زده کوي.

د ځانګړو زده کړو ټولګي

په متحده آیالتونو کې هر ښوونځی د ځانګړو زده کړو ټولګي لري.

هغه ماشومان چې د لیدلو، اورېدلو، پلي تګ کولو او یا زده کړې په برخه کې ستونزې لري، کولای شي د ځانګړو زده کړو په ټولګیو کې زده کړې وکړي.

ښوونځي له معلولیت لرونکو زده کوونکو سره مرسته کوي چې زده کړه وکړي او ښه کار ترسره کړي.

را نغاړل

په خپل هېواد او متحده آیالتونو کې د ښوونځي په اړه فکر وکړئ.

2 ورته شیان ولیکئ.

_____

_____

2 بېلابېل شیان ولیکئ.

_____

_____

لوست:

له ښوونځي سره اړیکه نیول

موخې

په دې لوست کې به تاسو له لاندې مواردو سره آشنا شئ:

- د خپلو ماشومانو له ښوونځي سره باید څه ډول خبرې وکړئ.
- د والدینو مور پلار-ښوونکو کنفرانسونه.
- د ښوونځي د کار کوونکی بیلابیلو رولونه.
- په ښوونځي کې نظم یا ډسپلین

مطالب

نوې کلیمې 27
ستاسو په هېواد کې 27
والدین او ښوونکي په ګډه کار ترسره کوي 28
په کور کې له ماشومانو څخه ملاتړ کول 29
د والدینو-ښوونکي کنفرانس 30
ښوونځی نظم یا دسپلین 33
د ښوونځي کار کوونکی 34
را نغاړل 36

نوې کلیمې

کلیمې	معنی ګانې
کار کوونکی	د ښوونځي کار کوونکي
سوبتیا	په ښوونځي کې اوسېدل
د والدینو-ښوونکي کنفرانس	د ښوونکي او کورنیو لیدنه
رضاکار	تر څو په یوه ښوونځي کې په وړیا ډول مرسته وکړي
ملتیا کول	هغه والدین چې سیر علمي او ساحوي سفر ته ځي او مرسته کوي
پرانیستي کور	د ښوونځي د لیدلو په موخه د ټولو زده کوونکو لپاره یو وخت
نمره	یو لیک او یا شمېره چې څرګندوي زده کوونکی په ښوونځي څه ډول دی. (A لوړ، F ټیټ)
امتیاز	په یوه ښوونځي کې د سمو ځوابونو شمېر
نظم یا دسپلین	کله چې یو ماشوم یو اصل تر پښو لاندې کړي، څه واقع کېږي

ستاسو په هېواد کې

په خپل ټولګي کې خبرې وکړئ.

- آیا تاسو په خپل هېواد کې د خپل ماشوم له ښوونکي سره ملاقات کړی دی؟
- آیا تاسو له خپل ماشوم سره په کورنۍ دنده کې مرسته کوئ؟
- کله چې ستاسو ماشوم په ښوونځي کې یوه ستونزه درلوده، تاسو څه ترسره کړل؟
- کله چې تاسو په متحده آیالتونو کې ښوونځي ته ولاړئ، څه ډول احساس مو درلود؟

والدين او ښوونکي په ګډه کار ترسره کوي

په متحده آيالتونو کې والدين او ښوونکي ملګرتيا لري.

دوي له زده کوونکو سره د مرستې په موخه په ګډه کار ترسره کوي.

له خپل يوه ملګري سره خبرې وکړئ:

کله چې والدين او ښوونکي په ګډه کار ترسره کوي، ماشومان:

- ښې نمرې تر لاسه کوي
- په آزموينو کې ښه امتيازات ترلاسه کوي
- ښه سوبتيا ولرئ
- په کور او ښوونځي کې ښه وي
- ډېر ملګري مومي
- ښوونځی پايته رسوي

له ښوونکو سره کار کول

تاسو څه ډول کولای شئ له ښوونکو سره کار وکړئ؟

- ☐ د والدينو-ښوونکو کنفرانسونو ته ولاړ شئ
- ☐ ښوونکي ته بربښنالیک واستوئ او يا اړيکه ونيسئ
- ☐ د ښوونځي ناستو ته ولاړ شئ
- ☐ د خپل ماشوم له ټولګي څخه ليدنه وکړئ
- ☐ په ښوونځي کې رضاکار و اوسئ
- ☐ په سير علمي او يا ساحوي کې ملتيا کول

په کور کې له ماشومانو څخه ملاتړ کول

که چېرې په کور کې له ماشومانو سره مرسته وکړي، دوي په ښوونځي کې ښه فعالیت ترسره کوي. تاسو کولای شئ:

- ☐ د ماشومانو لپاره د مطالعې په موخه یو ځای ولرئ
- ☐ د کورنۍ دندې په ترسره کولو کې مرسته وکړئ
- ☐ له خپل ماشوم څخه د ښوونځي په اړه پوښتنه وکړئ.
- ☐ له خپل ماشوم سره یې په خپله ژبه او انګلیسي ژبه ولولئ
- ☐ په ګډه زده کړو په اړه ویډیوګانې وګورئ.
- ☐ په شاوخوا کې قدم ووهئ او هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې تاسو یې وینئ.
- ☐ په ګډه پخلی وکړئ.

فعالیت: خپل ماشوم سره مرسته کول

تاسو څه ډول کولای شئ له خپل ماشوم سره د زده کولو په برخه کې مرسته وکړئ؟

د والدینو-ښوونکي کنفرانس

ښوونکي غواړي له والدینو مور پلار سره لږ تر لږه په کال کې 1 ځل وویني، تر څو د دوی د ماشومانو په اړه خبرې وکړي.

که چېرې تاسو غواړئ له دې زیات هم لیدنه ترسره کولای شئ.

تاسو کولای شئ د خپل ماشوم ښوونکو ته بربښنالیک واستوئ او یا اړیکه ونیسئ.

لارښوونه: *تاسو ټل کولای شئ یو ژباړن ته لاسرسی ولرئ.*

فعالیت: له ښوونکي سره لیکل

له یوه ملګري سره کار وکړئ. لیک ولولئ.

له: آغلې Sisley، د 3 ټولګي ښوونکي

ښاغلی Jibul
زه غواړم ستاسو د لور په اړه د خبرو کولو په موخه وګورم، هغه ډېره ښه ده، مګر هغه خپله کورنۍ دنده نه ترسره کوي. څه وخت مو ږ کولای شو وویني؟
مننه،

آغلې Siley

له یوه ملګري سره کار وکړئ. ښوونکي ته یو لیک ولیکئ:

آغلې *Siley*

_____

_____

_____

_____

مننه،

آغلې *Jibul*

فعالیت: د والدینو مور پلار-ښوونکو کنفرانسونو لپاره غوښتنه کول

Olga 9 کلنه ده.

د هغې کورنۍ متحده آیالتونو ته 5 میاشتې وړاندې راغلې ده.

Olga په نوي ښوونځي کې 4 ټولګی پیل کړی دی.

هغه په انګلیسي خبرې کوي، مګر ډېر ښې نه.

ځینې وخت هغه تیروتنه کوي.

په ټولګي کې ځینې انجونې په هغې پورې خاندي او د هغې نوم اخلي.

Olga ډېره خفه ده. هغه هیڅ ملګري نه لري.

هغه نه غواړي ښوونځي ته ولاړ شئ

هغې خپلې مور ته وویل چې په ښوونځي کې څه رامنځته شوي دي.

د Olga والدینو د هغې ښوونکي اغلې Sisley ته برېښنالیک واستولو، تر څو د لیدنې غوښتنه وکړي.

په ګډه دوی کولای شي ستونزه حل کړي.

آغلې Siley ته یو برېښنالیک واستوئ او د والدینو-ښوونکو کنفرانسونو غوښتنه وکړئ. که چېرې ژباړن ته اړتیا لرئ، نو ووایئ.

_____

_____

_____

_____

_____

فعالیت: د ښوونکي لپاره پوښتنې

تاسو کولای شئ د ښوونکي پوښتنې د بربنالیک له لارې واستوئ. له یوه ملګري سره پوښتنې ولولئ.

1. زما ماشوم په ښوونځي کې څه ډول دی؟
2. زما ماشوم د څه شي مطالعه خوښوي؟
3. زما ماشوم د څه شي مطالعه نه خوښوي؟
4. زما د ماشوم ملګري څوک دي؟
5. زه په کور کې له خپل ماشوم سره څه ډول مرسته کولای شم؟
6. _____

ښوونځی نظم یا دسپلین

هر ښوونځی بیلابیل اصول لري.

که چېرې یو ماشوم دا اصول تر پښو لاندې کړي، ښایي د نظم په موخه تادیبي جزا ور کړل شي.

توقیف	یو ماشوم باید له ښوونځي وروسته له ښوونکي سره پاتې شي. بیلګه: زده کوونکی ډیری وختونه ناوخته وي.
ځنډول	ماشوم باید د یوې ورځې لپاره په کور کې پاتې شي. بیلګه: ماشوم په شخړه کې ښکیل کېږي.
اخراج	یو ماشوم هیڅ کله نه شي کولای ښوونځي ته بیا راشي. بیلګه: ماشوم ښوونځي ته وسله را وړي.

د ښوونځي کار کوونکی

کورنی ښوونکی:

په منځي او د لېسې دورې په ښوونځي کې ماشومان ډېر ښوونکي لري.

کورنی ښوونکی د ورځې لومړی ښوونکی وي.

ELL ښوونکی:

هغه ښوونکی چې د انګلیسي ژبې درس ور کوي.

مدیر:

د ښوونځي مشر.

د ښوونځي سکرتریت:

په دفتر کې کار کوي، سلام وایي، ټلیفون ته ځواب ور کوي

د سوبتیا سکرتریت:

که چېرې ستاسو ماشوم ناوخته او یا ناسوب وي نو دوي اړیکه نیسي.

سلاکار:

له زده کوونکو سره د ستونزو په برخه کې مرسته کوي.

نرس:

ناروغو ماشومانو ته پاملرنه کوي. کولای شي د ماشومانو درمل ور کړي.

فعالیت: زما د ماشوم د ښوونځي کار کوونکي:

نوم ولیکئ. تاسو کولای شئ دا کار د کورنۍ دندې په توګه ترسره کړئ.

زما د ماشوم ښوونکی _____

زما د ماشوم ELL ښوونکی _____

مدیر _____

د ښوونځي سکرتریت _____

د سوبتیا سکرتریت _____

د ښوونځي سلاکار _____

نرس _____

را نغاړل

هو او یا نه ولیکئ

_____ کله چې زه له خپل ماشوم سره په کورنۍ دنده کې مرسته کوم،زه باید یوازې په انګلیسي ژبه خبرې وکړم

_____ ښوونکی غواړي زما سره زما د ماشوم په اړه وویني

_____ یوازې په هغه صورت کې کولای شم په ښوونځي کې رضاکار و اوسم، چې په انګلیسي په ښه ډول خبرې وکړم.

_____ که چېرې زما ماشوم یو ډیر لوی قانون تر پښو لاندې کړي، ښایي اخراج شي.

تاسو به په ښوونځي کې له خپل ماشوم سره څه ډول مرسته وکړئ؟

_____

_____

_____

_____

لوست:

لوړې زده کړې

موخې

په دې لوست کې به تاسو له لاندې مواردو سره آشنا شئ:

- د لویانو زده کړې
- د زده کړو لپاره د اداینې ترسره کولو څرنګوالی
- د راتلونکي لپاره پلان جوړول

مطالب

نوې کلیمې 38
ستاسو په هېواد کې 38
موخې..... 39
د آنجلا زده کړې 40
د لویانو زده کړې 41
د کالج او یا پوهنتون د لګښتونو لپاره اداینه ترسره کول 43
را نغاړل 45

نوې کلیمې

کلیمې	معنی ګانې
GED	د لېسې دورې دیپلوم ته ورته یوه آزموینه ده
HS21+ د لویانو د لېسې دورې دیپلوم	د هغو کسانو لپاره د لېسې دورې سند چې عمر یې 21 کاله او یا له هغې زیات وي
د ټولنې کالج	د هر چا لپاره کم لګښته کالج
د بیامیشتیدنې ایجنسي	هغه ځای چې له پناه غوښتونکو او کډوالو سره مرسته کوي
دنده	ستاسو د ژوند کار
د زده کړو سند	هغه سند چې په ګوته کوي چې تاسو کالج او یا پوهنتون خلاص کړی دی
د لګښتونو مرسته/د زده کړو بورسیه	هغه پیسې چې ښوونځي ته یې بیا ادا کول اړین نه دي
مالي مرستې (د لګښتونو مرسته او یا پور)	د ښوونځي د لګښتونو لپاره د دولت پیسې، پور باید بېرته ادا شي
سود	هغه اضافي پیسې چې پور ته ډېریږي
FAFSA	د متحده آیالتونو د حکومت څخه د مالي مرستو غوښتنه کول
WASFA	د هغو خلکو لخوا د واشنګټن آیالت د مالي مرستو غوښتنه کول چې د ټولنیز خوندیتوب شمېره (SSN) نه لري
خصوصي پور	د ښوونځي د ادا ینې ترسره کولو لپاره له یوه بانک او یا شخص څخه په پور پیسې اخیستل

ستاسو په هېواد کې

آیا تاسو په خپل هېواد کې ښوونځي ته تللئ؟

آیا غواړئ په متحده آیالتونو کې ښوونځي ته ولاړ شئ؟

موخې

فعالیت: زما موخې

1 عدد د هغې موخې تر څنګ ولیکئ چې تاسو ته خورا مهم دی.

2 عدد د هغې موخې تر څنګ ولیکئ چې تاسو ته په دوهم قدم کې مهم دی.

ستاسو وروستۍ مهمه موخه به 7 عدد وي.

زه غواړم چې...

_____ خپله انګلیسي ښه کړم

_____ یوه دنده ترلاسه کړم - پیسو ته اړتیا لرم

_____ په خپل مسلک کې یوه دنده وموم

_____ د دندې لپاره نوي مهارت ترلاسه کړم

_____ د لېسې دورې پایته رسول

_____ کالج ته ولاړ شه

_____ ډاډ ترلاسه کړم چې زما ماشومان کالج ته ځي

د Angela زده کړې

Angela د ګانګو دیموکراتیک جمهوری هېواد اوسېدونکې ده. (DRC)

هغه له خپلې مور او ورور سره راغلې ده.

هغه په DRC کې د 1 کال لپاره د کمپیوټر ساینس زده کړې وکړې.

هغه مجبوره شوه چې DRC له ترک وروسته ښوونځی پرېږدي.

هغه غواړي په متحده آیالتونو کې ښوونځی پایته ورسوي.

هغه غواړي چې سافټویر انجینیره شي.

د هغې کوچنی ورور. Prince 18 کلن دی.

هغه د لېسې دوره پایته نه ده رسولې.

هغه غواړي چې یو نرس شي.

د Angela مور، Eliza غواړي په متحده آیالتونو کې نوې دنده ترلاسه کړي.

هغه ډېر کم په انګلیسي ژبه پوهېږي.

پوښتنې

د Angela موخې څه دي؟

_____

د Prince موخې څه دي؟

_____

د Eliza موخې څه دي؟

_____

د لویانو زده کړې

د لېسې دورې پایته رسول

GED یوه آزموینه ده. تاسو په آزموینه کې بریالي شوئ ا و دیپلوم مو تر لاسه کړ.

HS21+ د لویانو په ټولګیو کې ګډون کوي او د دیپلوم ترلاسه کوي.

پوهنتون، کالج او د ټولنې کالج

د پوهنتون او کالج د زده کړو دوره 4 کلنه ده پوهنتونه او کالجونه ډېر لګښت لري.

د ټولنې د کالج د زده کړو دوره 2 کلنه ده د ټولنې کالج زیات لګښت نه لري.

د دندې زده کړې

د دندې زده کړې د نویو مهارتونو په اړه زده کړه ور کوي:

- له یوه کمپیوټر څخه کار واخلئ
- د دندې یو غوښتنلیک ډک کړئ
- د دندې مرکه تمرین کړئ
- له نویو وسایلو څخه کار واخلئ

ESL

ډیرى خلک کله چې متحده آیالتونو ته راشي انګلیسي ژبه زده کوي.

تاسو یې هم زده کولای شئ!

چېرته باید زده کړې وکړئ

تاسو کولای شئ په ESL، GED، +HS21 او دندې په ټولګیو کې ګډون وکړئ
د زده کړو ټولګی په:

- د ټولنې کالجونه
- د بیامیشتیدنې ایجنسۍ
- کتابتونونه

پوښتنې

د Angela، Eliza او Prince په اړه فکر وکړئ. پوښتنو ته ځواب ور کولو لپاره نوم ولیکئ:

- څوک باید لېسې ته ولاړ شي او یا GED ترلاسه کړي؟ _____
- څوک باید کالج او یا پوهنتون ته ولاړ شم؟ _____
- څوک باید د ESL په ټولګي کې ګډون وکړي؟ _____

د کالج او یا پوهنتون د لګښتونو لپاره اداینه ترسره کول

د زده کړو بورسیې او مالي مرستې

د زده کړو بورسیې او مالي مرستې هغه پیسې دي چې ښوونځي ته د بیرته ادایني لپاره اړتیا نه لري.

په واشنګټن آیالت کې د زده کړو آنلاین بورسیې په The Washboard کې شتون لري:
www.thewashboard.org

مالي مرستې

مالي مرستې د دولت لخوا مرسته شوې پیسې دي.

مالي مرستې بېرته ادایني ته اړتیا نه لري.

پورونه باید له سود پرته بېرته ادا شي.

سود هغه اضافي پیسې دي چې تاسو یې د خپل سره ور کوئ.

که چېرې تاسو مالي مرستو ته اړتیا لرئ، تاسو کولای شئ **FAFSA (ته غوښتنلیک واستوئ).**

که چېرې تاسو د ټولنیز خوندیتوب شمېره نه لرئ، تاسو کولای شئ **WAFSA (ته غوښتونلیک واستوئ).**

خصوصي پورونه

خصوصي پورونه له بانک او یا یوه شخص څخه پور دی - لکه ملګری او یا کورنۍ.

خصوصي پورونه په لوړه کچه سود لري. د ښوونځي له سلاکار سره له خبرو کولو پرته پورونه مه اخلئ.

پوښتنه

د زده کړو لپاره د اداینې ترسره کولو لپاره تر ټولو غوره لار کومه ده؟ ولې؟

- ☐ د زده کړو بورسیې او مالي مرستې
- ☐ مالي مرستې
- ☐ خصوصي پورونه

فعالیت: د انجیلا د کورنۍ په اړه فکر وکړئ

دا تصور وکړئ چې تاسو د انجیلا ملګري یاست. هغې به د خپلې کورنۍ او زده کړو په اړه څه ویل؟

خپل ځواب ولیکئ او یا له یوه ملګري سره خبرې وکړئ:

را نغاړل

د خپلو موخو په اړه فکر وکړئ. تاسو باید څه ترسره کړئ؟

زه به...

- ☐ زه به په ESL ټولګي کې ګډون وکړم
- ☐ زه به خپل GED یا HS21+ د لویانو د لېسې دوري دیپلوم ترلاسه کړم
- ☐ کالج او یا پوهنتون ته باید ولاړ شئ
- ☐ د ټولنې کالج ته باید ولاړ شئ
- ☐ د دندې اړوند زده کړې ترلاسه کړئ
- ☐ د زده کړو بورسیې او مالي مرستې غوښتنه وکړئ
- ☐ د مالي مرستو غوښتنه کول
- ☐ د خصوصي پور لپاره غوښتنه کول